مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبید الله نادر

۲۰۲۱/۰۱/۰۸

# آزمایش

چې مې دا ستا خوږي ترخي منلي
ستا محبت کي سلسلي منلي

څوک به لا خوښ په زنځيرونو نه وي
چي يي د زلفو، زولني منلي

چي بيخودۍ کې، ستا د غمه وځم
ساقي د لاسه مې پيالي منلي

زاهده ما خو د حساب له ويری
په ځان مې زر ځله توبې منلي

په تورو شپو کې ستا د سترګو په ياد
ستا د غمونو قافلي منلي

څنګه به سترګي زما سترې نه وي
چي ستا کوڅه کي مې پيري منلي

زړګی زما سل پرهارونه لري
چې د آشنا شونډې مې سرې منلي

نور آزمايش څخه وتلی يمه
ځکه چې ما، سرې تودي منلي

کال ۱۳۷۴سرطان


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنی د لیکنیزی بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ